


# د NYS د ماشومتوب د لومړنیو خدمتونو لپاره د کورنۍ لارښود ـ له زیږون مخکې دورې څخه تر 5 کلنۍ پورې

د کورنیو لپاره یوه لارښود سرچینه چې خپل ماشوم په نیویارک ایالت کې د ماشوتوب له لوړنیو خدمتونو سره ونښلوي

## په کور کې لیدنه (له زیږون څخه مخکې –5 کلن)

په کور کې لیدنه له مېندوارو ښځو او هغو کورنیو سره مرسته کوي چې تر 5 کلنۍ پورې ماشومانو لري او د سالم ماشوم ودې ته پراختیا ورکوي. له کور څخه لیدنه ستاسو کورنۍ ته په وړیا ډول وړاندې کیږي. تاسو ته نږدې له کور څخه د لیدنې خدمت د پیدا کولو لپاره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ: **www.bit.ly/homevisitingnys**



**له کور څخه د لیدنې پروګرامونه کورنۍ د ټولنې له سرچینو سره نښلوي لکه:**

- طبي خدمتونه، د غاښونو او روغتیایي خدمتونه
- ماشوم پالنه
- لومړنی Head Start او Head Start
- د لومړنۍ مداخلې خدمتونه
- خواړه، استوګنځی او دنده

## ماشوم پالنه (له 6 اونیو تر 12 کلنۍ پورې)



NYS د ماشومانو او کورنۍ خدمتونه (OCFS) د لاندې مواردو په اړه معلو مات چمتو کوي:

- د پاملرنې پیدا کول
- د پاملرنې لپاره تادیه

په وېب سایټ کې ګټورې ویډیو ګانې او بروشورونه او د ماشوم پالنې ځایي سرچینې او د ارجاعي اداري د اړیکو معلومات شامل دي.

**www.ocfs.ny.gov**

### د ماشوم پالنې د لټولو پړاوونه

1. **لومړنی پیل**
ستاسو د کورنۍ لپاره د مناسبې ماشوم پالنې پیدا کول ښایي وخت ونیسي. دا سمه ده چې تاسو ان د مېندوارۍ پر مهال هغه ولټوئ. تاسو کولای شئ په لاندې لېنک کې د NYS د والدینو پورټل ته مراجعه وکړئ تر څو ماشوم پالنه ومومئ:
**www.nysparenting.org**

2. **خپل ځایي CCR&R ته زنګ ووهئ**
ستاسو په ساحه کې د موجودو پروګرامونو په اړه د معلوماتو لپاره خپل د ځآیي ماشوم پالنې د سرچینو او ارجاعاتو له ادارې سره اړیکه ټینګه کړئ. لېست د OCFS پر وېب سایټ په لاندې لېنک کې لیدلای شئ:
**www.bit.ly/ChildCareReferral**

3. **د ماشوم پالنې لپاره د تادیې مرسته** ایا تاسو پوهېدئ چې کېدای شي د ماشوم پالنې لپاره د تادیې د مرستې مستحق یاست؟ نور معلومات له خپل ځایي CCR&R څخه وغواړئ یا لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ:
**www.bit.ly/ChildCareFunds**

4. **لیدنه وکړئ او پوښتنې مطرح کړئ** لیدنه ستاسو د ماشوم او کورنۍ لپاره د مناسب تصمیم نیولو لپاره غوره لاره ده. د هغو شیانو یو لېست جوړ کړئ چې ستاسو لپاره مهم دي.



### QUALITYstarsNY (QSNY)

QSNY د NYS د کیفیت د ارزونې او ښه کول/وده ورکول سیستم دی تر څو ډاډ حاصل کړي چې کوچني ماشومان په لومړنۍ پاملرنه او تعلیمي پروګرامونو کې غوره والي ته لاسرسی لري او د هغوی کورنۍ کولای شي د هغو پروګرامونو پر کیفیت باور وکړي چې هغوی غوره کړي دي.

**www.qualitystarsny.org**

## له وخت وړاندې مداخله (عمر 0 – 3)

هره کاونټي د لومړنۍ مداخلې پروګرام (EIP) لري تر څو له هغو کوچنیانو او نوپایانو سره مرسته وکړي چې عمرونه یې تر 3 کلونو پورې دي او معلولیتونه یا وده ییز ځنډ لري. خدمتونو مستحقو کورنیو ته په وړیا ډول وړاندې کیږي. د خپلې کاونټۍ چمتو کوونکی دلته ومومئ:

**www.bit.ly/earlyinterventionnys**

**ارجاع**

د لومړنۍ مداخلې پروګرام چې د کورنۍ د یوه غړي یا چمتو کوونکي له لوري ورسره اړیکه ټینګه شوې ده.

**د لومړنۍ خدمت همغږی کوونکی**

له کورنۍ سره همغږي کوونکي اړیکه نیولې ده تر څو د EIP په اړه معلومات ورسره شریک کړای شي.

**ارزونه**

کورنۍ له یوه چمتو کوونکي سره ګوري او پر شرایطو برابروالی تعینوي.

**د IFSP لیدنه**

که چېرته یوه کورنۍ پر شرایطو برابره وي، یو لیکلی پلان له کورنۍ سره ترتیبیږي چې د کورنۍ د خدمتونو فردي شوی پلان (IFSP) ورته وايي.

**د لومړنۍ مداخلې خدمتونه**

EIP خدمتونه په کور یا د ماشوم پالنې په یوه چاپېریال کې چې هلته ماشوم اوسیږي، وړاندې کېدای شي.

په هرو 6 میاشتو کې پر IFSP بیا کتنه کیږي.

**د IFSP بیا کتنه**

ستاسو ماشوم هر کال بیا ځلې ارزول کیږي.

**ته لیږد**

د ماشومتوب د لومړنۍ زده کړې او له ښوونځي څخه مخکې ځانګړې زده کړه

**د لومړنۍ مداخلې د خدمتونو په بېلګو کې لاندې موارد شامل دي:**

- د خبرو کولو درملنه
- فزیکي درملنه
- شغلي د
- د کورنۍ سلا مشوره

## Head Start (عمر 0 – 5 کلن)

Head Start او Early Head Start له مستحقو کورنیو سره مرسته کوي او ملاتړ یې کوي تر څو هغوي خپلې موخې ترلاسه کړي. پروګرامونه د کورنیو لپار ه د بشپړې ورځې، نیمې ورځې او د کور د لیدنې غوراوي په وړیا ډول وړاندې کوي تاسو ته د نږدې پروګرام موندلو لپاره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ:

**www.bit.ly/headstartprograms**




**د Head Start مرستې**

لومونړۍ زده کړه • روغتیا • رواني روغتیا
ځانګړې زده کړه • د کورنۍ هوساینه

## له ښوونځي وړاندې ځانګړې زده کړه (عمر 3 – 5)

له ښوونځي څخه مخکې ځانګړې زده کړې داسې خدمتونه وړاندې کوي چې له ښوونځي څخه د وړاندې دورې د پېژندل شوې معلولیت لرونکي زده کوونکي اړتیاوې پوره کړي. خدمتونه ستاسو کورنۍ ته د تعلیمي ناحیې له لوري په وړیا ډول وړاندې کیږي.

**www.bit.ly/specialednys**



**له ښوونځي څخه مخکې په ځانګړې زده کړه کې د فردي زده کړې یو پروګرام او کلنۍ بیا کتنه شامله ده:**

1. **IEP**
د زده کړې فردي پروګرام (IEP) د دې لپاره چمتو کیږي تر څو ستاسو د ماشوم اړتیاوې او موخې بشپړې کړي.

2. **کلنۍ بیا کتنه**
هر کال یوه لیدنه ترسره کیږي تر څو ستاسو د ماشوم پرمختګ وکتل شي او د راتلونکي کال موخې وټاکل شی.




## د ایالت له لوري تمویلېدونکی له وړکتون څخه مخکې پروګرام (عمر 3 – 4)

له وړکتون څخه مخکې دوره له ماشومانو سره مرسته کوي چې ښوونځي ته چمتو شي. دغه پروګرامونه ستاسو د ځایي تعلیمي ناحیې له لوري یا په ټولنه کې د شته بنسټونو له لوري په وړیا ډول وړاندې کیږي. د نورو معلوماتو لپاره خپل تعلیمي ناحیې ته مراجعه وکړئ.

**www.bit.ly/earlylearningnys**

# د NYS د ماشومتوب د لومړنيو خدمتونو لپاره د کورنۍ لارښود - له زیږون مخکې دورې څخه تر 5 کلنۍ پورې

د کورنیو لپاره یوه لارښود سرچینه چې خپل ماشوم په نیویارک ایالت کې د ماشوتوب له لوړنیو خدمتونو سره ونښلوي



## د کورنۍ ملاتړ

### د کورنۍ لپاره له معاش سره رخصتي

د شخص لپاره له نوي ماشوم سره د تړاو پیدا کولو، پر یوه عزیز پام کولو لپاره چې سخت ناروغ وي، یا کله چې د کورنۍ یو غړی د پوځي خدمت لپاره له هېواد څخه بهر استول کېږي، نو NYS د دندې له خوندیتوب او معاش سره رخصتي ورکوي. له مرستندویه کرښې سره په **1.844337.6303** شمېره اړیکه ټینګه کړئ یا **www.bit.ly/paidleavenys** ته مراجعه وکړئ

### د NYS د بهرنیو چارو ریاست، د نویو امریکایانو اداره

ټولو کډوالو ته وړیا خدمتونه وړاندې کوي او د ټولنې لارښودان، د کارې ځواک وده، د انګلیسي ژبې ګرځنده زده کړه او حقوقي خدمتونه پکې شاملېږي. **1.800.566.7636** ته زنګ ووهئ یا یا **www.bit.ly/onanys** ته مراجعه وکړئ

### NYS د موقتي او معلولیت د مرستې دفتر، کډوالو ته د پرمختللو خدمتونو پروګرام

له نویو را رسېدلو کورنیو سره د ژبې د روزنې، روغتیایي خدمتونو او دندې د خدمتونو په څېر خدماتو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. **518.402.3096** شمېرې ته زنګ ووهې یا **www.bit.ly/rsnys** ته مراجعه وکړئ

### د خپلوانو پالنه

د خپل وېب سایټ **www.nysnavigator.org** او وړیا شمېرې **1.877.454.6463** له لارې معلومات، ارجاعات او ملاتړ چمتو کوي

### نیویارک د ماشوم له ځورونې څخه مخنیوی

د والدین د یوې مرستندویې ټلیفوني کرښې په ګډون د ماشوم پالنې ملاتړ وړاندې کوي. **1.800.244.5373** ته زنګ ووهئ یا **www.preventchildabuseny.org** ته مراجعه وکړئ

## وده ییز معلولیتونه

### د NYS والدینو ته والدین

هغه کورنۍ پیاوړې کوي چې پر وده ییز معلولیت لرونکو ماشومانو پام کوي. له **1.800.305.8817** شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا **www.parenttoparentnys.org** ته مراجعه وکړئ

### د NYS کورنۍ یو ځای

له هغو ماشومانو سره مرسته کوي چې ټولنیز، عاطفي او چلندي ستونزې لري. **518.432.0333** ته زنګ ووهئ یا **www.ftnys.org** ته مراجعه وکړئ

## رواني روغتیا

### د NYS د رواني روغتیا اداره

تاسو له زیږون څخه مخکې خپګان، د ماشوم رواني روغتیا او د کورنۍ د نورو ټولنیزو – عاطفي اړتیاوو لپاره له ځایي سرچینو سره نښلوي په کړکېچ کې تاسو کولای شئ په بې نومه بڼه **GOT5** ولیکئ او د **741741** شمېرې ته یې واستوئ. همدارنګه تاسو کولای شئ له **1.800.273.TALK (8255)** شمېرې سره اړیک ونیسئ یا **wwwbit.ly/mentalhealthnys** ته مراجعه وکړئ

### له زیږون څخه وروسته د نیویارک د سرچینو مرکز

داډ حاصلوي چې کورنۍ د ماشوم له زیږون څخه وروسته د رواني روغتیا اړینه مرسته ترلاسه کوي. مرستندویې کرښې ته په **1.855.631.0001** شمېره زنګ ووهئ یا **www.postpartumny.org** ته مراجعه وکړئ

## د روږدیتوب مرستې

### د NYS د روږدیتوب د خدمتونو او مرستو دفتر

که چېرته تاسو یا ستاسو کوم خپلوان ستونزه لري، نو کولای شئ د **1.877-8-HOPENY (1.877.846.7369)** شمېرې ته چې د اونۍ په 7 ورځو کې په 24 ساعته ډول فعاله ده په زنګ وهلو یا **467369** شمېرې ته د **HOPENY** په استولو سره مرسته او هیله ترلاسه کړئ د روږدیتوب د درملنې، کړکېچ، ډیټوکس، د بستري، مسکوني یا سراپرایي پاملرنې لپاره **FindAddictionTreatment.ny.gov** یا **www.bit.ly/oasasnys** ته مراجعه وکړئ



## روغتیا او خوندیتوب

### کورنۍ تاوتریخوالی

### د کورني تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د NYS اداره

که چېرته تاسو یا ستاسو کوم پېژندګلو د کورني تاوتریخوالي قرباني یاست او مرسته، بېړنۍ سرپناه یا معلوماتو غواړئ، نو ستاسو په ټولنه کې د کورني تاوتریخوالي پروګرام ته زنګ ووهئ.

**www.bit.ly/dvhelpnys** ته مراجعه وکړئ یا د NYS د کورني او جنسي تاوتریخوالي له ټلیفوني کرښې سره اړیکه ټینګه کړئ: **1.800.942.6906**، انګلیسي او هسپانوي/ بېلا بېلې ژبې د لاسرسي وړ دي. کاڼه یا په سختۍ اوریدونکي: **711**.

### د سالمې ودې ټلیفوني کرښه

د روغتیاپالنې، تغذیې او د کورنۍ د نورو اړتیاوو په اړه معلومات چمتو کوي. د اونۍ په 7 ورځو کې هره ورځ په 24 ساعته ډول په انګلیسي، هسپانوي او نورو ژبو کې د لاسرسي وړ دي. ټولې اړیکې محرمې دي.
**1.800.522.5006**

### Medicaid + Child Health Plus

که چېرته تاسو مشخص مالي شرایط پوره کوئ، نو ښایي ستاسو کورنۍ د مېډیکېډ یا CHP لپاره پر شرایطو برابره وي. د نیویارک ایالت د روغتیا د مارکېټ پلېس له لارې یا مېډیکېډ یا CHP ټلیفوني کرښې ته په **1.800.698.4KIDS** شمېرې د زنګ وهلو له لارې نوم لیکنه وکړئ

### د نیویارک ایالت مارکېټ پلېس

آنلاین سرچینه چې له تاسو سره په پیرلو، پرتلې او د یوې کم لګښته باکیفیته روغتیایي بیمې په پلان کې د ګډون په برخه کې مرسته کوي. **www.nystateofhealth.ny.gov**

### د غاښونو د روغتیا خدمتونه او سرچینې

د ماشوم پالنې او ماشومتوب د خولې د روغتیا لپاره سرچینې ومومئ. **1.800.662.1220** TTY **1.855355.5777** ته زنګ ووهئ یا **www.bit.ly/dentalnys** ته مراجعه وکړئ.

### له زیان څخه مخنیوی

SAFE KIDS NY داسې یو بنسټ دی چې ماشومانو ته د زیان رسېدو د مخنیوي لپاره ځانګړی شوی دی او ځایي ټلوالې لري له **516.881.7000** سره اړیکه ونیسئ یا **www.bit.ly/safekidsnys** ته مراجعه وکړئ.

## لومړنۍ اړتیاوې
## (خواړه، جامې، سرپناه)

### WIC (د ښځو، ماشومانو او کوچنیانو لپاره د خوړو ځانګړی بشپړوونکی پروګرام)

WIC پر شرایطو برابرو کوچنیانو، ماشومانو او هغو ښځو روغتیا ته بهبود ورکوي او ملاتړ یې کوي چې مېندوارې وي، ماشوم یې شیدې خوري یا له زیږون څخه په وروسته پړاو کې وي. **www.bit.ly/wicnys**



### SNAP
### (د تغذیې مرستندویه بشپړوونکی پروګرام)

SNAP له تاسو سره مرسته کوي تر څو خپل ځان او کورنۍ ته سالم خواړه وپیرئ. **www.bit.ly/snapnys**

### HEAP (د کور د انرژۍ مرستندویه پروګرام)

HEAP له تاسو سره مرسته کوي تر څو د کور د ګرمولو لګښت ادا کړئ. **www.bit.ly/heapnys**



### د خوراکي توک ځایي بانک

د خوړو له ځایي زېرمې سره ستاسو د وصولو لپاره د NYS د روغتیا ریاست وېب سایټ ته مراجعه وکړئ
**www.bit.ly/foodbanknys**


### د سرپناه مرسته

که چېرته تاسو اوس بې کوره یاست یا د بې کوره کېدو له خطر سره مخ یاست، نو د خپل د ټولنیزو خدمتونو له ځایي ډیپارټمنټ سره اړیکه ټینګه کړئ **www.bit.ly/housingnys**

### 211nys

**211** دا شمېره په اسانۍ سره یادولای شو او د NY له کورنیو سره مرسته کوي تر څو له لومړنیو اړتیاوو او مرستو سره ونښلي

**د مرستندویه پروګرام، روغتیایي بیمې او مالیې د کرېډټ معلومات دلته پیدا کولای شئ*
https://mybenefits.ny.gov/mybenefits/begin



# د NYS د والدینو پورټل

WWW.NYSPARENTING.ORG

Download on the App Store | GET IT ON Google play

**والدین د کورنیو له دوستانه وېبسایټونو سره نښلوي چې لاندې موارد پکې شامل دي:**

- د NYS د والدینو لارښود
- د ماشومانو د پاملرنې او له ښوونځي څخه د وروست دورې پروګرام موقعیت موندونکی
- د څوکونو سیستمونو لارښود
- هر زده کوونکی حاضر دی





## ځایي اړیکې



**د ماشومانو متخصص:**

**WIC مرکز:**

**د خوړو زېرمه:**

**له کور څخه د لیدنې پروګرام:**

**د ماشوم پالنې سرچینه او ارجاعي اداره:**

**د کاونټي لومړنۍ مداخله:**

**د Head Start / Early Head Start همغږی کوونکی:**

**تعلیمي ناحیه:**

**د روغتیایي بیمې لپاره نوم لیکنه:**
**wwwnystateofhealth.ny.gov**
**1.800.541.2831**

**د مسمومیت کنټرول**
**1.800.222.1222**

**د کړکېچ د مالیې کرښه:**
**په پیغام پاڼه کې "Got5" ولیکئ او 741-741 ته یې واستوئ**

پر 11/2021 نېټه بیا وکتل شو

د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتونو د وزارت د مرستې د 90TP005902 مرکز، د ماشومانو، کورنیو اداري او د ماشوم پالنې د اداري له لوري ورسره مرسته کېږي. د مطالبو مسوولیت لیکوالانو ته راجع کېږي او د ماشوم پالنې د اداري، د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتون د وزارت د ماشومانو او کورنیو د اداري نظر نه څرګندوي.